مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۵/۰۷/۰۲

# مینه لوستل کیږي هم

ژړل یې،
ښکل مې کړه،
د اوښکو څاڅکو یې
زما پر وچو چاودلیو شونډو د خندا مالګه خوره کړه.
سلګی یې وهلې
په دلاساینه مې غېږ کې ونیوله
سلګی یې ودرېدې،
خو
د زړه دربا یې زیاته شوه
او ما د یوې تېرې زلزلې له پستو پسلړزو خوند واخیست،
د پخلاینې خوند.
سترګې یې ډکې وې،
هغه خبره مې اوس هېره ده
چې څه مې ورته وویل؟
په خندا شوه
له سترګو رابهېدلې لیکه یې
د موسک غومبورې په ښکلې ګرداو کې ننوته.
تر یوې ناکرارې چوپتیا روسته یې راته وویل:
رانجه چې اصل وي
اوښکې نه توروي،
رنې بهیږي.
هیله مې ترې وکړه:
...خو ته مهٔژاړه!
ځکه، زه
نه رنې اوښکې زغملای شم
او
نه په رنجو تورې هغه.
دا ځل یې ډنډ سترګو خندل،
ویل یې:
مینه،
له اوښکو او موسکا پرته
نهٔلوستل کیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ